که خلکو ته د دوی د ادعا سره سم ورکول کیدی، نو ځینو سړیو به په نورو د مال او ویني دعوه کړې وه، خو په دعوه کوونکي د ثبوت وړاندې کول دي او قسم په هغه چا دی چې انکار کوي

له ابن عباس -رضي الله عنهما- نه روایت دی، چې د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي: "که خلکو ته د دوی د ادعا سره سم ورکول کیدی، نو ځینو سړیو به په نورو د مال او ویني دعوه کړې وه، خو په دعوه کوونکي د ثبوت وړاندې کول دي او قسم په هغه چا دی چې انکار کوي".

[صحیح دی] [البيهقي روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې که چېرته خلکو ته په تشې دعوې کولو یو څه ورکول کېدی؛ پرته لدې چې ثبوت وړاندې کړي او یا قرائن شتون ولري؛ نو ځینو خلکو به په نورو د مال او ویني دعوا کړې وه، خو اصل دا دی چې څوک دعوه کوي نو پر هغه د هغه څیز د لاسته راوړلو لپاره د ثبوت وړاندې کول دي او که چېرته ثبوت ونه لري، نو دوسیه (قضیه) مدعی علیه ته وړاندې کېږي، که هغه ترې انکار وکړ، نو قسم به خوري او براءت به حاصلوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4722

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee